بسم الله الرحمن الرحیم

## پوښتنه او ځواب

## د نفتو بحران او په اړه يې غبرګونونه

(ژباړه)

**پوښتنه:**

داسې راپورونه خپاره شول چې د نفتو بيې په ناڅاپي ډول ډېرې راټيټې شوې، په ځانګړې توګه د تګزاس د نفتو بيې ان له صفر هم ۳۰ ډالره ټېټې شوې. ان د برېنټ خام نفت چې د منظمې سوداګرۍ له کبله ډېر مشهور دي، په هر بېرل کې يې بيه نهه سلنه چې ۲۵ ډالره کېږي، راټيټې شوې. دلايل يې ډېر دي، يو دليل يې دا هم بلل کېږي چې د نفتو د توليد کچه لوړه او تقاضا ډېره ټيټه شوه، خو داسې نظر هم شته چې دا هرڅه د کرونا ويروس له کبله نړيوال بازار له رکود وروسته رامنځته شول. خو پوښتنه دا ده چې د دغه بحران علت څه و؟ ايا دا به نور هم دوام کوي؟ او څه ډول به پر نړيوال او په ځانګړې توګه د امريکا پر اقتصاد اغېز وکړي؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې په نړيواله کچه د نفتو د بحران او په ځانګړې توګه د امريکا(تګزاس) او پر نړيوال او د امريکا پر اقتصاد يې پر اغېزو پوه شو، نو اړينه ده چې درې شرايط(اقتصادي، سياسي او د تګزاس پر نفتو يې اغېز) وپېژنو، له هغې وروسته به يې د برېنټ پر نفتو او له هغې وروسته به يې د امريکا او نړۍ پر اقتصاد د اغېز په اړه وغږېږو.

**لومړی:** د نفتو پر مصرف د کرونا اغېز:

د روان میلادي کال له پيل سره سم چې کله کرونا ويروس په چين کې راپيدا شو، له هغه ځايه بيا امريکا او اروپا ته خپور شو، ورسره سم په ډېرو هېوادونو کې قرنطين او د اقتصاد د ډېرو برخو فلج هم شروع شو. د کرونا ويروس د انتقال له وېرې چې کوم فلج حالت رامنځته شو، له يوه هېواد څخه بل ته او په ځانګړې توګه اروپا او امريکا ته يې د هوا له لارې د مسافرو پر تګ راتګ ناوړه اغېز وکړ او بنديز پرې ولګېد. سربېره پر دې، کله چې د هوا او

ځمکې له لارې د غذايي او نورو موادو پر تګ راتګ هم بندیز ولګېد او دا چې د دغه تګ راتګ له کبله د نړۍ ٦٨ سلنه نفت مصرفېږي، نو په دې ډول سره نړیوال تجارت په ټپه ودرېد.(انډیپېنډېنټ اربیک، ۲۴/۴/۲۰۲۰).

پر دې اساس کرونا په نړیوال بازار کې د نفتو تقاضا راټیټه کړه او د دې وبا په زیاتېدو سره دغه بحران ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې و. کرونا ویروس اقتصادي څرخ نړدې په ټوله مانا له درېدو سره مخ کړ، خو په ځانګړې توګه یې له نفتو سره اړیکه ډېره نږدې او اغېزناکه وه. په دې مانا، په هره اندازه به چې د کرونا ویروس ګواښ ډېرېده، په هماغه کچه به ورسره د نفتو بازار هم له رکود سره مخ کېده. وروسته له هغې چې کرونا وبا د نړۍ د نفتو تر ټولو ډېرې مصرفوونکې جغرافیې(اروپا) ته ورسېده او دا لویه وچه یې له ګواښ سره مخ کړه، ورسره سم په نړیواله کچه د نفتو لپاره په بازار کې غوښتنه(تقاضا) هم په بې ساري ډول راټیټه شوه. تر هغې هم دا ستونزه هغه مهال ډېره جدي شوه، چې د نړۍ د نفتو ۲۰ سلنه مصرف کوونکی هېواد(امریکا) د کرونا له خطرناکې او چټکې څپې سره مخ شو، پر دې اساس د نفتو بیه نورو هم راټیټه شوه.

له ډیجیټلي اړخه، دا چې د نړي د نفتو مصرف کوونکو هېوادونو به په ورځني ډول ۱۰۰ میلیونه بېرله نفت مصرفول، نو په دې کچه کې ټولټال ۳۰ سلنه ټیټوالی راغی او موږ هم له ټولو بیانیو څخه یوازې دوو بیانیو ته اشاره کوو چې دغه رکود او سقوط تاییدوي:

۱-[د نړیوالې انرژۍ اژانس نن چهارشنبه(۱۵/۴/۲۰۲۰) وړاندوینه کړې چې اپرېل میاشت کې په ورځني ډول په نړۍ کې د نفتو مصرف ۲۹ میلیونو بېرلو ته رسېدلی چې دا په تېرو ۲۵ کلونو کې بې مخینې رکود دی... .(د الوېفدې ورځپاڼې وېب سایټ(۱۵/۴/۲۰۲۰)].

۲- [د روسیې د انرژۍ وزیر الکساندر نوواک اعلان وکړ چې د نفتو تقاضا په ورځني ډول له ۲۰ تر ۳۰ میلیونو بېرلو راټیټه شوې ده. هغه وایي: ((موږ په نړۍ د نفتو د تقاضا تر ټولو ډېرې ټیټې کچې ته رسېدلي یو)). (الاربیه نېټ، ۲۲/۴/۲۰۲۰)].

له همدې کبله، د نړۍ په بازارونو کې د نفتو لپاره تقاضا تر هغې کچې راټیټه شوه چې ساری یې یوازې د نړیوالو جګړو په وخت کې لیدل کېږي. دا هر څه له تېرو نیږدې دریو یا څلورو میاشتو راهیسې د کرونا ویروس د خپرېدو له چټکتیا سره وشول. تر دې چې د تګزاس د نفتو بیه د ۲۰/۴/۲۰۲۰ تر ټولو ټیټې کچې(۳۷ـ) ته ورسېده چې دا ورځ «توره دوشنبه» ونومول شوه.

**دویم-** دویم مورد یې د سیاسي شرایط دي:

دا چې نن ورځ نفت په نړۍ کې یو ستراتېژیک توک ګڼل کېږي، نو له همدې کبله ځینې هېوادونو یې پر ځینو نورو هغو د فشار د وسیلې په توګه کاروي او موږ په دغه ځای کې د امریکا د سیاست په اړه خبرې کوو چې یوه میاشت مخکې یې سعودي یې له روسیې سره د نفتو جګړې ته وهڅاوه، د دغې موضوع د وضاحت لپاره:

۱- د دې لپاره چې د امریکا د شیل د نفتو کمپنۍ په نړیوال بازار کې سیالي وکړی شي، امریکا، روسیه اړ کړه چې نفتو د تولید کچه راټیټه کړي، ترڅو د نفتو قیمتونه وساتل شي؛ ځکه چې د امریکایي کمپنیو لپاره د نفتو استخراج په ډېره لوړه بیه تمامېږي. د دې پالیسۍ له مخې سعودي په تېرو دریو کلونو کې پر دې وتوانېد چې روسیه له اوپېک سازمان سره یوځای کړي او د تولید د کمولو لپاره یې نوي چوکاټ اوپېک پلس ته چې له مخې یې په ورځني ډول ۲,۱ میلیون بېرله نفت تولیدول، یوځای کړي. د عربستان او روسیې ترمنځ دغه تړون د ۲۰۲۰ کال د مارچ په وروستیو کې پای ته ورسېد، دغه تړون د کرونا ویروس له خپرېدو وړاندې د پلي کېدو وړ و، خو له کرونا وروسته هم ومنل شو.

۲- کله چې په چین کې کرونا ویروس را پیدا شو او ایټالیا ته هم خپور شو، ورسره سم د د برېنټ د نفتو په هر بېرل کې ۴۵ ډالره رکود هم رامنځته شو او د دغه حالت دوام د امریکا د نفتو تولیدوونکو ته د خطر زنګ دی او په دې سره له بازار څخه د امریکایي تولیدوونکو د لرې کېدو ګواښ هم زیات کړی دی. له همدې کبله باید د نفتو قیمتونه بېرته لوړ شي. په دې سره امریکا پر سعودي فشار راوړ چې روسیه دې ته اړ کړي چې د نفتو تولید راټیټ کړي، په دې سره په ۶/۳/۲۰۲۰ نېټه د اوپېک پلس په ناسته کې روسیې د سعودي دغه غوښتنه رد کړه.

۳- کله چې د اوپېک پلس سازمان یاده غونډه بې پایلې او ناکامه شوه، ورسره سم د نفتو بیه ۱۰ سلنه نوره هم راټیټه شوه.

۴- د دغې ناستې له ناکامېدو وروسته سعودي د نفتو په جګړې سره روسیه دې ته وهڅوله چې په پنځو پړاوونو کې ورسره یو نوی جریان ومني:

الف- لومړی پړاو: دغه تړون، لومړنی تړون (۲,۱ میلیونو بېرل) ته د تولید کچې راټیټول، لغو کړ؛ سره له دې چې روسیې ژمنه کړې وه چې لومړی هم مني.

ب- دویم پړاو: له کرونا ویروس سره سره، د اپرېل له لومړي(د تړون له پای ته رسېدو وروسته) به په ورځني ډول له ۱۲-۱۳ میلیون بېرل پورې د نفتو تولید ډېرېږي.

ج- د لومړي ځل لپاره د خپلو اساسي هېوادونو پېرونکو ته په هر بېرل کې د شپږ ډالرو تخفیف ورکول(په لومړي ځل دومره ډېر تخفیف).

د- پر دې اساس، د مشتريانو په کمېدو سره، هغه مشتريان چې د روسيې په نفتو مشارکت کوي، د روسيې ونډه له بازار څخه ترلاسه کوي.

۵- د سعودي عربستان لخوا د ۲۰۲۰ م کال د مارچ په ٦ مه د اوپيک پلس له ناکامې ناستې څو ورځې وروسته دغه اقدامات اعلان شول، چې ورسره د تيلو د بيو ۳/۱ برخه راټيټې شوې. دا په ۱۹۹۱ م کال د فارس د خليج له جګړې وروسته لومړی ځل دی چې د تيلو بيې د خپلې دريمې برخې په اندازه ټيټېږي. سعودي عربستان په داسې حال کې د بازار د ونډو د ډېرښت پر موخه د توليد د زياتوالي اعلان وکړ چې د کرونا ويروس خپرېدل خپله په بازار کې د تقاضا پر پرتله د عرضې د زياتوالي سبب شوی. له هغه وروسته د خامو تېلو د هر بېرل بيه له ۲۲ سلنه کمښت سره ۳۷،۰۵ ډالر او له ۳۱ سلنه کمښت سره ۳۱،۰۲ ډالر ته راښکته شوه، چې دا د ۲۰۱٦ م کال د فيبروي له ۱۲ مې وروسته تر ټولو ټيټه کچه ده... (رويټر ۹/۳/۲۰۲۰)

(دغه خام تېل په شمالي بحر کې د تېلو له ساحو څخه اخيستل شوی) برنټ کروډ د خامو تېلو او Forties, Oseberg and Ekofisk ګډ ترکيب دی، چې د نړۍ د تېلو د ۳/۲ برخې د توليداتو د بيو د ټاکلو د معيار په توګه استفاده کېږي او د لېږد د لګښتونو په نظر کې نيولو وروسته په ځانګړې توګه په اروپايي او افريقايي بازارونو کې د بيو د مناسبوالي په صورت کله امريکا او کله هم افريقايي هېوادونو ته استول کېږي. برنټ کروډ په لندن کې د انټرکانټيننټل تبادلې مارکېټ کې معامله کېږي. سعودي عربستان د ۲۰۲۰م کال د اپريل له لومړۍ نېټې وروسته د دغو ګامونو په پورته کولو سره د تېلو بيې ټيټې کړې دي او د مارچ په اخر کې له اوپېک پلس سره د روسيې له تفاهم وروسته په بازار کې د تقاضا پر وړاندې د عرضې اندازه زياته شوې، چې د برنټ په پرتله د تېلو بيې د اپريل په مياشت او د ۲۰۲۰ م کال د اپريل تر ۲۰ مې وړاندې نيژدې د ۳۰ ډالرو په اندازه ښکته راغلې دي.

٦- په حقيقت کې د سعودي دغه نوې پاليسې د امريکا پاليسي وه چې پر روسيه باندې د فشار اچولو په موخه شاوخوا دوه مياشتې وړاندې په واشينګټن کې د تېلو د سقوط لپاره په امريکا کې د تقاضا د نوو ابعادو په نظر کې نيولو لپاره چې د کرونا ويروس د ناورين له امله پېښ شوي وو، ورامنځته شوه. دغو دوو ټکو ته په کتو (د امريکا تر فشار لاندې د عربستان پاليسي او د تېلو د تقاضا د بېړني سقوط) له لارې ټرمپ پرته له دې چې د خپلو د تېلو شرکتونه خوندي والی په نظر کې ونيسي پر روسيه باندې تخريبي ګزارونه وکړل. په بل عبارت امريکا فکر نه کاوه چې د دوی پلان به د تېلو بيې په دومره لوړه کچه راټيټې کړي، خو دغو دوو فکتورونو په ګډه د تېلو بيې هغې اندازې ته راټيټې کړې چې تمه يې نه کېدله. د روسيې پر وړاندې د امريکا (سعودي) تګلاره او د نړۍ د تيلو د تقاضا دوامداره کمښت، د امريکايي تګلارې په ترتيب کولو کې دومره څرګند نه و. په امريکا کې د تېلو د

شېل شرکتونو باندې فشار ډېر شوی دی. د ۲۰۲۰ م کال د اپریل پر ۲ مه نېټه د وېټینګ پترولیم شرکت خپل افلاس اعلان کړ او ددې ترڅنګ د تېلو نور ۱۰۰ شېل شرکتونه د افلاس پر څنډه ولاړ دي، ځکه چې په بازار کې د تېلو بیې د تولید د لګښت څخه ټیټې دي، د هر شېل شرکت د هر بېرل حاشیي لګښت ۳۵ ډالره دی (Arab Markets website, 11/3/2020). د The Independent Arabic د ۲۰۲۰م کال د اپریل د ۲۴ مې د راپور له مخې د غربي تکزاس د تېلو تحویلي د پنجشنبې پر ورځ ۲۰۲۰ م کال د اپرېل پر ۲۳ مه د جون تحویلي ۱۵ ډالره او د سیپټمبر تحویلي شاوخوا ۲۷ ډالره وه او د ۲۰۲۰ م کال تر اخره پورې ټول راتلونکي قراردادونه تر ۳۰ ډالرو ښکته دی او همدغې د شېل پر شکتونو باندې فشار ډېر کړی دی.

۷- د کرونا ویروس د خپرېدو په وجه د امریکا د تېلو صنعت له خطرناک حالت څخه تېرېږي. امریکا څو ځله د سعودي او روسیې ترمنځ د خپلې مداخلې نیت اعلان کړی، ترڅو دوی د تولید بندولو ته وهڅوي. د امریکا ولسمشر له خپل روسي سیال څخه د خبرو اترو غوښتنه وکړه او د روسیې ولسمشر هم له سعودي سره نه بلکې له امریکا سره د تېلو پر بیو باندې د خبرو لېوالتیا درلوده. ټرمپ له سعودي سره هم په اړیکه کې و، هغه وویل: «موږ له ولسمشر پوتین سره ګټورې خبرې اترې درلودې.له ولیعهد سره مو هم ګټورې خبرې درلودې.» (یورو نیوز1/4/2020)

په مجموع کې ویلی شو چې امریکا د تېلو د تولید د کمولو په موخه د تاریخ تر ټولو لوی تړون، (په ورځ کې د شاوخوا ۱۰ میلیونه بېرل) د روسیې-سعودي تړون سپانسر کړی دی. د اوپېک غړي او د دوی متحدین هغې معیاري هوکړې ته ورسېدل چې په سبب یې د تقاضا په کمېدلو سره د تېلو تولید ۱۰ سلنه کمېږي. هغه څه چې تر اوسه تائید شوي دی، هغه دادي چې اوپېک او د هغوی متحدین به د تېلو تولید په ورځ کې ۹,۷ میلیونه بېرله کموي (بې بې سي ۲۰۲۰م کال د اپریل ۱۲ مه). دا تړون به د ۲۰۲۰ م کال د مې له لومړۍ نېټې څخه پلی کېږي او تر دوو میاشتو به دوام کوي، ترڅو لاسلیک کوونکي هېوادونه د نړیوالې تقاضا واقعیت درک او د راتلونکي ګام اخیستلو لپاره مناسبه پرېکړه وکړي. دا یوه لنډ مهاله پرېکړه ده، چې د جون میاشتې په پای کې د تېلو نړیوالې تقاضا د لوړوالي انتظار باسي. په هر حال، دغه حالت دا په ډاګه کوي چې د تېلو د بیو ناورین دومره ژور تللی چې د دغه لوی توافق پر ترسره کېدلو سره هم په بازارونو کې د تېلو په بیو کې د ډېر کم زیاتوالی سبب نه دی شوی، خو د برانټ نرخ د ۳۰ ډالرو په اندازه ښکته شوی. دغه حالت دا څرګندوي چې ۳۰ میلیونه بېرلو نړیواله ورځنۍ تقاضا ټیټه شوې ده او په ورځ کې د ۱۰ میلیونه بېرلو تولید کمښت کومه مرسته نه شي کولی!

**دریېیم:** دریېمه خبره د امریکا د تېلو ذخیره ده. په امریکا کې د تېلو دوه ډوله ذخیرې موجودې دي، لومړی د دولت سټراټیژیکې ذخیرې دي او دویم د شرکتونو ذخیرې. د دوو نورو شرحو او خبرو ترڅنګ دغې شرحې هم د

تېلو د ناورین په ژورولو کې خپله ونډه ادا کړې ده، چې یوه برخه یې په ستراتیژیکو زېرمو پورې تړلې او بله برخه یې د لوېديځ تګزاس په تیلو پورې تړلې ده، چې په لاندو ټکو کې روښانه کېږي:

۱- د امریکا ستراتژیکې ذخیرې چې معمولا تر ځمکه لاندې دي او د ناورین د له منځه وړلو په موخه تېل ذخیره کوي او ډېری هېوادونو په ۱۹۷۳ م کال کې د انرژۍ د نړیوال سازمان په وړاندیز په جګړه کې د تېلو د کړکېچ یا ناورین له امله جوړ کړي دي. د تېلو هر اصلي مصرف کوونکی هېواد خپل د تېلو ټانکونه لري چې د تېلو د پرې کېدلو په صورت کې د ۳۰-۹۰ ورځو پورې د خپلو تېلو اړتیا پوره کولی شي.

۲- په ۱۹۷۵ م کال کې د امریکا کانګریس یو قانون تصویب کړ چې فدرالي حکومت اړ کوي ترڅو د اړتیا وړ اندازه تېلو د ذخیره کولو لپاره سایټونه رامنځته کړي چې د تېلو د عرضې د پرې کېدلو په صورت کې ترې استفاده وشي. د امریکا د تیلو د ذخیره کولو سایټونه د تکزاس او لوییزیانا ایالت په څنډو کې موقعیت لري او دولت یې د ساتنې مسؤلیت پر غاړه لري. په ۲۰۰۹م کال کې یې ظرفیت تر ۷۲۷ میلیونه بېرلو پورې رسېده. د فدرالي حکومت د ذخایرو سربېره د امریکا هغه شرکتونه چې د انرژۍ په برخه کې کار کوي، هم د تېلو د ذخیره کولو سایټونه لري چې په مجموعي ډول د فدرالي دولت د ذخایرو سره مساوي دي. د دغو شرکتونو ټانکونه د امریکا په ترټول لوی ایالت تګزاس کې په لوی شمېر شتون لري، په دغه ایالت کې له اوږدې مودې را په دېخوا تېل تولیدېږي او د لوېدیځ تګزاس د خامو تېلو په نوم مشهور شوي. همدارنګه په ګاونډې اوکلاهوما ایالت کې هم ذخایر شته او د تګزاس تیل له همدغه ځایه د امریکا د اصلي ځمکې ژورو ته لېږل کېږي.

۳- د نفتو د بیې له تېر ځل 6/3/2020 ټېټېدو او د سعودي او روسیې تر منځ د بیې پر سر جګړې سره، ډېرو هېوادونو، په ځانګړي ډول چین او امریکا د خپلو ستراټېژیکو زېرمو ډکول پیل کړل او ټرمپ دغه وخت له ټیټو بیو خوشاله و. امریکا له سعودي او نورو هېوادونو څخه په ارزانه بیه نفت وپېرل او مخکې له دې چې «توره دوشنبه» راورسېږي، د تګزاس ټانکونه که ټول نه وو، خو تر ډېره حده ډک شول. په دې توګه د نفتو د ذخیرو ستونزه لا ډېره شوه، ذخیرو ته د نفتو استخراجول –په داسې حال کې چې پلورل کېدل نه- په یوه پېچلې موضوع بدل شول، په ځانګړي ډول په تګزاس کې د نفتو د تولیدوونکو لپاره د ذخیرو د کانالونو بندول یوه حللاره ښکارېده.

۴- په دې توګه د امریکا د نفتو ستراټېژیکې ذخیرې په لوړه فیصدۍ ډکې شوې، د نفتو له ټانکرو څخه د ذخیرو د اسانتیاوو په توګه کار واخستل شو او د ذخیرو ستونزه یې لا لویه کړه، ځکه چې د لوېدیځ تګزاس د ذخیرو اسانتیاوې د تګزاس تر شمال، د اوکلاهوما ایالت تر کشېنګ سیمې پورې، چې د عرضه کولو یا پیل ټکی دی، اوږدې شوې، له بلې خوا تصفیه‌خونو خپل کار د تقاضا د کمښت په وجه کم کړ (الجزیره نېټ، ۲۰/۴/۲۰۱۲)، د کشېنګ سیمې د ذخیرو د ظرفیت لوړ حد ۷۶ میلیونه بېرله دی. د نفتو قراردادیان کولی شي دغه نفت د قرارداد

له لاسلیک څخه وروسته تر هغه چې د امریکا له لویې وچې یې خپلې سیمې ته وړي، په دغو ذخیرو کې وساتي، خو څه وشول:

[د اوکلاهوما ایالت په کشېنګ سیمه کې، چېرته چې د تګزاس خام تېل ذخیره کېږي، موجوده ظرفیت پنځه میلیونه بېرله لوړ شوی او اعظمي حد ته نیږدې دی. د امریکا د سونګ موادو او تصفیه شوو تولیداتو ذخیرې هم لوړې شوې، په داسې حال کې چې اونیز مصرف یې له یوه کال راهیسې تر ۲۵ سلنه ډېر ټیټ شوی. (رای الیوم , 25/4/2020)]. نو ویلی شو چې د نفتو د بیو د پرلپسې لوېدلو اصلي او لومړنی سبب په بې ساري ډول په نړیواله کچه د تقاضا کمېدل دي، کابو ۳۰ سلنه، یعنې هره ورځ شاوخوا ۳۰ مېلیونه بېرله. دا چې پر روسیې د امریکا-سعودي د فشار راوړلو پالیسي د تقاضا د بحران په وخت کې نه، بلکې یوازې په عادي حالت کې کار ورکوي، دا کار د نفتو په بیه کې د لویې ستونزې سبب شوی.

**څلورم:** دغو ټولو د لوېدیځ تګزاس نفت اغېزمن کړل. د اوکلاهوما د ذخیرو اسانتیاوې ډکې شوې وې او له ډېرې لوړې بیه پرته نور د ذخیرو لپاره ځای نه و، هغه قراردادونه باید په هر قېمت چې وي، تنظیم شوي وی. د دې پایله دا شوه چې په 20/4/2020 نېټه «توره دوشنبه» او د لوېدیځ تګزاس د نفتو بحران راغی، هر بېرل نفت په منفي ۳۷ ډالر وپلورل شول او د امریکا د اسهامو په بورس کې معامله کوونکي له لوی زیان سره مخ شول. څه چې دغه ټکي ته ارزښت ورکړ او وضعیت یې لا خراب کړل، موږ یې پورته یادونه وکړه؛ دا په کشېنګ کې د ټانکرونو ډکېدل وو، کله چې ذخیرې خپل اعظمي حد ته ورسېدې – دا کار ډېر کم پېښېږي- د ذخیرو بیه لوړه شوه او په دې سبب چې د نفتو د مصرف په اړه لرلید د روان تړلي اقتصاد به سبب لا له شکه ډک و، په کشېنګ کې د ذخیرو بیه ډېره لوړه شوه او د مې میاشتې د نفتو پر قراردادیانو د فشار بل فکټور شو. دوی هڅه وکړه چې په هره بیه وي، ځان ترې خلاص کړي، نو د هغو قراردادونو بیې لسو ډالرو ته رانښکته شوې، بیا پنځو ته او ان په یوه ډراماټیکه صحنه کې تر صفره ښکته شوې، بیا له صفره هم ښکته شوې، تر ټوله ټیټه بیه یې ان تر منفي ۳۷،٦ را ښکته شوه، په دې منځ کې لویه حیرانتیا د حاملینو او د سهامو د بورس معامله کوونکو لپاره وه. د لوېدیځ تګزاس د نفتو لپاره په 20/4/2020 نېټه د «تورې دوشنبې» بحرانونه داسې پېښ شول، دا یې عاملونه وو چې سره یو ځای شول او بحران ترې وزیږېد. دغه ناورین د ټرمپ هغه خوشالي لرې کړه چې په 12/4/2020 نېټه یې د روسیې او سعودي تر منځ د اوپیک پلس هوکړه‌لیک پر وخت ویلي وو: « دا به په امریکا کې سلګونه زره دندې رامنځته کړي. زه د روسیې ولسمشر، پوتین او د سعودي پاچا، سلمان بن عبدالعزیز ته مبارکي وایم او مننه ترې کوم». د ټرمپ خوشالي ریښتینې نه وه، ځکه چې په داسې ناوړه لار د بیو ټیټېدلو یوازې په امریکا کې نه، بلکې په ټوله نړۍ کې لویه وېره پیدا کړې وه. کله چې اقتصادي بحرانونه راورسېدل، دغو خبرو یې نیږدې وو چې انفجار وکړي!

د یادولو ده چې د لوېدیځ تګزاس منځني نفت د امریکا د نفتو له سیمو استخراج شوي، له تګزاس، لوییزیانا او شمالي ډاکاټا؛ بیا د پایپ لین په وسیله د اوکلاهوما کشېنګ ته د ارایې لپاره انتقالېږي او د لوېدیځ تګزاس منځني خام تېل د New York Mercantile Exchange (NYMEX) په واسطه چې د Chicago Mercantile Exchange (CME) اړوند دی، سوداګري پرې کېږي.

**پنځم:** له بل لوري، د کرونا ویرویس د بحرانونو له پیل راهیسې امریکا د ملاتړ، ژغورنې او انګېزې لپاره پلانونه ونیول او دا نور پلانونه یوې خواته شول، لومړی یې د ۸،۳ بېلیونو ډالرو په ارزښت د بېړني مصرف یو کوچنی پلان دی چې د روغتیایي پروګرامونو ملاتړ وکړي او دا وړتیا ورکړي چې په امریکا کې د کرونا وبا له خپرېدو جوړ راووځي. وروسته له دې چې کرونا ویروس له روغتیایي سکتور بهر اقتصاد ته ضربه وروسوله، [امریکا متحده ایالاتو د سود کچه کابو تر صفره راښکته کړه او د ۷۰۰ بېلیونه ډالرو په ارزش انګېزشي پروګرام یې پیل کړ، دا دې لپاره یوه هڅه وه چې اقتصاد یې د کرونا ویروس له اغېزه وساتي. (BBC, 16/3/2020)]، بازارونو په نغدو ډالرو راکړه ورکړه ډېره شوه چې د نغدو پیسو له کموالي سره مخ شول. بیا یې په 27/3/2020 د ۲،۲ ټرېلیونو ډالرو انګېزشي پلان ونیو چې دا د امریکا په تاریخ کې تر ټولو لوی پلان دی، ډېره برخه یې د هغو شرکتونو د پور اخیستو ته ځانګړې شوه چې ورشکستګۍ ته نیږدې وو. ضمناً [ د امریکا مرکزي بانک وختي اعلان کړی و چې لږ تر لږه د ۵۰۰ بېلیونو ډالرو ارزښتمن اسناد او تر ۲۰۰ بېلیونو ډالرو د ګرو د پشتوانې اسناد اخلي. د دغه بانک سیسټم همداراز اعلان کړی و چې یو داسې پروګرام جوړوي چې په نوو مالیاتو کې تر ۳۰۰ بېلیونو ډالرو پورې برابرولی شي، دا مامورینو، مصرفوونکو او کمپنیو ته د کرېډېټ له بهیر څخه د ملاتړ هڅه ده. (Traders (App), 24/3/2020)]. اټکل شوی چې په امریکا کې به پر کرونا د اخته کسانو د درملنې لګښت بې خې زیات وي او د بیمې کمپنۍ به له ماتې سره مخ کړي، که څه هم کمپنۍ ډېرې لویې دي. امریکا همداراز د خپلو خلکو له بېکاریو ځورېږي، د کرونا ویروس په بحران کې شاوخوا ۳۰ میلیونه امریکایان بې دندو شول او په هغو کمپنیو کې یې چې کار کاوه، له ډېر ناوړه حالت سره مخ شوې او بېرته یې کارونو ته ورتګ دومره ژر شونی نه دی. دا زیات شمېر له دې منعکسېږي چې د دولت د مرستو لپاره بېکاره امریکایانو غوښتنه کړې او دا بحران لا روان دی. که دا هېواد له ستونزو په همدې لارو تښتي، پولي واحد یې ښايي په وحشتناکه توګه راولوېږي، دا کار به هم امریکا زیانمنه کړي او هغه هېوادونه او خلک چې راکړه ورکړه یې په ډالر ده.

**شپږم:** دې بحران یوازې پر امریکا نه بلکې پر نورو هېوادونو هم اغېز کړی او بې رحمانه یې ځپلي.

۱- دا چې د اروپا حالت تر امریکا ښه نه ده، د کرونا ویروس اغېزې د اقتصادي اغېزو تر څنګ د هغې سیاسي جوړښت له ګواښ سره مخ کړی. په ایټالیا، فرانسه، هسپانیه، جرمني او بریتانیا کې د بحران نښې ښکاره دي. د فرانسې ولسمشر ماکرون د ۲۰۲۰ م کال د مارچ په ۲۶مه په مطبوعاتي کنفرانس کې د ټلیفوني اړیکې له لارې

گوابښ ورکړ چې «د کرونا ویروس د بلاک مرکزي ستنې د ړنګېدو له ګوابښ سره مخ کړي» هغه وویل: «څه چې مهم دي د اروپايي پروژې ساتل دي ... له هغه ګوابښ سره چې موږ مخ یو د شېنګېن مړینه ده. (Russia today، ۲۰۲۰ د اپرېل ۲٦مه؛ رویټرز ۲۰۲۰ د مارچ ۲۷مه)». د جرمني لومړۍ وزیرې مېرکل وویل: «زما په اند اروپايي ټولنه له خپل پیدایښت راهیسې تر ټولو لویې ازموینې سره مخ ده... مهمه خبره دا ده چې بلاک د ویروس له امله رامنځته شوي اقتصادي بحران څخه اغېزمن شوی» ... (رویټرز ۲۰۲۰ د اپرېل ۷مه). د هسپانیې لومړي وزیر پېدرو سانچېز د ۲۰۲۰ د اپرېل په ۵مه وویل: «اوسني حالتونه استثنايي دي او بېړنی موقف غواړي. که موږ د دې ننګونې پر وړاندې بريالي شو او که پاتې راشو...» (German Frankfurter Allgemeine، ۲۰۲۰ د اپرېل ۵مه). د اروپايي ټولنې مشرانو د ۲۰۲۰م کال د اپرېل په ۲۳مه په خپله ویډیويي ناسته کې پر یوه ۵۰۰ بیلیونه یورويي بېړنۍ مرسته هوکړه وکړه. خو د نورو مرستو جنجالي مسلې یې تر اوړي پورې وځنډولې. هغوی د مالي مرستې او د کرونا ویروس ګډو ټولګو رامنځته کولو په هکله خبرې وکړې. خو جرمني، هالند، اتریش او فنلنډ د دې ګډو ټولګو له رامنځته کولو سره مخالفت وښود او دا مالي مرسته یې رد کړه. فرانسې، ایټالیا او هسپانیې له دې پروژې ملاتړ وکړ او تر ټولو اغېزمن هېوادونه دي. د جرمني ردول په دې دلیل دي چې هغه غواړي چې په خپل نامه پور ورکړي چې دا هېوادونه نوموړي هېواد ته پوروړي وي او جرمني وکولای شي نور اروپايي هېوادونه کنټرول کړي.

۲- د چین په اړه، نړیوال بانک خبرداری ورکړی چې « د نړیوال اقتصاد شاته تګ د چین پر اقتصادي وده هم اغېز ښندي، د دوی اقتصادي وده په تېر ۲۰۱۹م کال کې له ٦،۱٪ څخه سږ کال ۲،۳٪ ته راټیټه شوې» (Alhurra.com/usa 10/4/2020) . دغه پاڼه د چین د مرکزي بانک د یوه چارواکي په حواله وايي: « دی وايي، بیجینګ روان کال د اقتصادي ودې لپاره ټارګېټ نه دی ټاکلی، ځکه چې له ګڼو احتمالاتو او شکونو سر مخ دی». Economic Daily Newspaper ورځپاڼه د چین د خلکو بانک د پیسو د پالیسۍ کمېټې د یوه غړي، ما جون له خولې لیکي: « سخته به وي چې ٦ سلنه ودې ته ورسېږو». دی زیاتوي: « د یوه ټارګېټ ټاکل له ویروس سره په مخ کېدو کې رسمي اندازه محدودولای شي».

۳- د روسیې په اړه، دا نفتو او ګازو په ٦۰ سلنه صادراتو پورې اړه لري. نفت د روسیې د اقتصاد لپاره بیخي ډېر اړین ګڼل کېږي، خو دوی زیان پکې کړی او د روسیې پولي واحد، روبل هم اوس په ډېر ناوړه حالت کې دی، روبل تر دې کچې راټیټ شوی چې د نفتو د بیې له جګړې وروسته یو ډالر ۷۹ روبله کېږي. رویټرز خبري اژانس د روسي بانک په حواله رپوټ ورکوي چې: « که د یوه بېرل نفتو بیه له لسو ډالرو ټیټه شي، د ناخالصو داخلي تولیداتو کچه ۱۵٪ کمېږي».

**اووم:** د پانګوال نظام ناکامي نوره هم ښکاره شوه، دا ایډیالوژي د کرونا ویروس له بحرانونو سره په مقابله کې ناکامه ده، په هېوادونو کې یې ځانغوښتنه پیدا شوې، دا وضعیت د دوی له خپله لاسه دی او اوس یې سمولی هم نه شي؛ یوازینی لار چې د اسلام ځواکمنه، توانمنده او سمه ایډیالوژي تاسیس کړو. دا د اسلامي امت لپاره یو فرصت دی چې بیا راولاړ شي. که څه هم د امت د خوښځت پر وړاندې د دوی نظامونه او د دغو نظامونو ملاتړ کوونکي ولاړ دي، د دوی حکام له اسلام سره پر دښمنۍ ولاړ دي او له لویو استعماري دولتونو سره اړیکه لري.

امت یوې مخلصې او ریښتینې رهبرۍ ته اړتیا لري چې د ریښتیني اسلام مطابق یې رهبري کړي. حزب التحریر هغه مخکښ دی چې خپلو خلکو ته درواخ نه وایي، ورسره یو ځای شئ او په صداقت کار ورسره وکړئ.

**﴿وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾**

**ژباړه:**« الله به هرو مرو د هغو کسانو مرسته وکړي چې له هغه (سبحانه و تعالی) سره مرسته کوي، الله ډېر زورور او بلاسی دی »[حج: ۴۰]

ګرانو ورونو او خویندو، دا پېښه ښیي چې نړیوال نظم به له کرونا ویروس وروسته د پخوا پشان نه وي. هغه هېوادونه چې ځان ورته د ځمکې پر سر خدایان ښکاري؛ د هغه څه خلاف قوانین جوړوي چې الله سبحانه و تعالی یې پر خپل پیغمبر صلي الله علیه وسلم نازل کړي؛ ریښتیا، دروغ او دروغ، ریښیا کوي؛ دوی د یوه داسې کوچني مخلوق پر وړاندې په مبارزه کې پاتې راغلې چې په ډېره سختۍ په سترګو لیدل کېږي، همدغه کوچني مخلوق دوی پر ځمکه راویشتلي، مبارزه نه شي ورسره کولی، دوی لا هم د خپلې بې عدالتۍ په تیاره کې لوېږي، تر هغه چې د الله القوي العزیز دغه کلام پرې ولګېږي:

**﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقاً﴾**

**ژباړه:** « او اعلان وکړه چې؛ حق راغی او باطل له منځه لاړ، باطل له منځه تلونکی دی»[اسراء :۸۱]

د خلافت نور به بیا ټوله نړۍ روښانه کوي او په ټوله نړۍ کې به خیر او نېکي خورېږي.

**﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً﴾**

ژباړه: «... او دوی به د سر په خوځولو پوښتنه وکړي: ښه نو دا به کله وي؟ ورته ووایه: ولې حیرانېږئ؟ دا وخت نیږدې راتلونکی دی »[اسراء : ۵۱]